د ارشاد، حج او اوقافو وزارت

د اطلاعاتو او عامه پوهاوي رياست

رمضان مبارک

الصَّوْمُ لي و اَنا اَجْزي به

روژه زما دی او زه ددې اجر او ثواب ورکوم

WWW.MOHIA.GOV.AF

د ارشاد، حج او اوقافو (وزارت) ارشاد، حج و اوقاف

وزارت ارشاد، حج و اوقاف - د ارشاد، حج او اوقافو وزارت

کابل نوی ښار، د فیض محمد خان څلور لارې

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# روژه، احکام او حکمتونه يې

**سريزه**

**الحمد لله رب العالمين والصَّلاة والسَّلام على أشرف الأنبياء والمرسلين سيِّدنا محمد وعلى آله وأصحابه أجمعين. وبعد:**

درمضـــان مبارکه مياشت، د قرآن د نزول، مغفرت، ښښـــنې، سخاوت، کرم، او بخشش مياشت ده. د عبادت، منبرونو او جوماتونو د آبادولو مياشت ده. د صبر او استقامت مياشت ده. د قربانۍ او لورينې مياشت ده. د هڅې او جهاد مياشت ده. د رحمت او له دوزخ څخه د مسلمانانو د ژغورنې مياشت ده. د فيض او برکت مياشت ده، د ځان د جوړونې او نفس د کابو کولو مياشـت ده. هغه مياشـت ده، چې يو مســـلمان وګړی په کې کولای شي، د قرآن کريم له لارښوونو سره سم، د خدای پاک عبادت په سمه توګه ترسره کړي.

الله ﷻ دې مونږ ټولو مسلمانانو ته، د بندګۍ او د شريعت د حکمونو د پلي کولو توفيق راپه نصـــــــيب کړي او د اسلامي ټولنې د رښتيني خدمت په لار کې، برياليتوب او خپله ملتيارا په برخه کړي.

## الف: د رمضان د روژې پېژندنه

- درمضان روژه، د هجرت په دويم کال فرض شوې ده.
- درمضـــان روژه، د اسلام يو مهم رکن دی، چې منکر ورڅخه کافر او خوړونکی يې، پرته له شرعي عذر څخه، فاسق او ګناهکار ګڼل کيږي.
- درمضـــان روژه، په هر نر او ښځې، عاقل، بالغ، او مقيم مســـلمان، چې د نيولو توان يې لري او له موانعو (لکه: حيض او نفاس) څخه خالي وي، فرض ده.

## ب: د روژې فلسفه او حکمتونه

د الله ﷻ په هر عبادت کې، ګڼ حکمتونه نغښـــتي دي. د روژې ځينې حکمتونه په لاندې ډول دي:

- روژه، د الله ﷻ د عبادت او اطاعت يوه وسيله ده، چې روژتي انســـان پرې له بې پايه الهي اجر او ثواب څخه برخمن کيږي.
- روژه، د شکر ايســـتلو لپاره يوه وسيله ده؛ ځکه د روژې د ورځې په اوږدو کې، له درې ګونو خوندونو (خوراک، څښـــاک او جنسيـــ اړيکې) څخه ډډه کول، د نعمتونو د ارزښت د پېژندنې سبب ګرځي او د دې پېژندنې له لارې،

بنده د الله ﷻ، چې دغه نعمتونه يې ورته پېرزو کړي دي، شکر ايستونکی کيږي.

- روژه، له ګناهونو څخه د ځان ساتنې لامل دی؛ ځکه يو څوک چې د الله ﷻ د رضـــا او خوښـــې په خاطر او د هغه د عذاب له ويرې، د حلالو شـــيانو په پرېښـــودلو کې د هغه حکم مني، نو د حرامو شيانو په پرېښـــودلو کې به، په اولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

طریقې سره، د هغه ﷻ فرمانبرداره او حکم منونکی وي.

- پر نفس بر لاسه کېدل او د نفساني خواهشاتو کمېدل.
- له بې وزلو سره مرسته او همدردي کول؛ ځکه د روژې له لارې، انســان سره د ورو او ړمنو خلکو فکر پیدا کیږي او د خپل مال او شتمنۍ په مټ، چې الله ﷻ د ده په واک کې ور کړې، د هغوی اړ تیاوې ورپوره کوي.
- روژه، له ځان سره، جسماني او روحاني تربیت او روزنه لري، هغه روح غښتلی کوي، ځواکمنوي او پاکوي یې، نفس ته آرامتیا او تن ته سلامتیا وروبښـــــي او انسان په صبر او زغم سمبالوي.

## ج: د روژې روغتیایي ګټې

- روژه، د دې ترڅنګ چې یو عبادت دی، یو مکلف وګړی یې د ترسره کولو په ترځ کې، یو لړ روغتیاي ګټې هم لاسته راوړي:
- روژه، معده تصــفیه او د لا ښه فعالیت لپاره یې چمتو کوي، چې ورسره د ډېرو هغو احتمالي ستونزو او ناروغیو مخه نیول کیږي، چې د انســـان معده د کال په اوږدو کې، د ډول ډول خوراکونو له امله ورسره مخ کیږي.
- روژه، د چاغښت لپاره ګټوره ده؛ ځکه د روژې له لارې، د انسان د بدن د وازدو (واز ګو) زیاته برخه اوبه کیږي، چې ورسره چاغوالی کمیږي.
- روژه، د شکرې د ناروغۍ مخنیوی کوي؛ ځکه انســان تر ډېره بریده، د روژې میاشـت کې، د خوږو په خوړو کې کموالی راولي، چې ورسره د وینې غوړوالی یې کمیږي او فشــار یې کنټرولیږي. که یې یاده ناروغۍ په لومړیو پړاونو کې وي، نو امکان شته چې له منځه لاړه شي.
- روژه، انسـان ته ذهني ځواک او تمرکز وربښـي؛ ځکه د روژې پرمهال انسان د یوه بې ساري صبر او زغم په درشل کې قرار لري او ډېری هغو ځیزونو ته یې پام نه اوړي، چې له روژې پرته یې په فکر کې ور ګرځي .

## د- د روژې رکن او شرطونه

**رکن:** د روژې رکن، له خوراک، څښـــــاک او جماع څخه ډډه کول دي، له سپېده چاوده د لمر تر لوېدا پورې.

**شــرطونه:** ۱- نیت کول، ۲- له حیض او نفاس څخه پاکوالی، ۳- د روژې ماتوونکو کارونو نه ترسره کېدل، لکه: جماع.

**د نیت کولو طریقه:** نیت، په زړه کې د عبادت د ترسره کولو ارادې او پرېکړې ته وایي. په خوله د نیت الفاظ ویل، چې د زړه د ارادې پخوالی کوي ،اړین نه دي، خو که وویل شي، غوره کار دی او هغه داسې: «اراده مې وکړه، سبا د رمضان د میاشتې د فرضي روژې د نیولو، یواځې د الله د رضا لپاره ».

## هـ- د روژې سنتونه او آداب

د لازیاتو معنویاتو د لاسته راوړلو په خاطر، لاندې د سنتونو ترڅنګ د روژې ځینې هغه آداب دي،چې مسلمان وګړی یې باید د روژې پرمهال په پام کې ونیسي:

۱- پېشلمی کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- پېشلمې په ځنډسره کول، دومره چې د هغه او د سپېده چاود ترمنځ ډېر واټن نه وي؛ ترڅو روژتي ویده نه شې او د سهار د جَمعې له لمانځه بې برخې نه شي.

۳- په روژه ماتي کې بیړه کول، د لمر په بشپړ ډول له لوېدو وروسته.

۴- په خرما او یا په اوبو روژه ماتول.

۵- د روژه ماتي دعا ویل:

{اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِرَحْمَتِكَ ٱلَّتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ أَنْ تَغْفِرَ لِي ذُنُوبِي} (سنن ابن ماجه)

**ژباړه**: اې الله! زه ستا نه د هغې رحمت په وسیله، د خپلو ګناهونو د بښنې سوال کوم، چې ټولو شیانو ته شامل دی.

یا دا دعا ویل: {اَللّٰهُمَّ إِنِّي لَكَ صُمْتُ، وَعَلَى رِزْقِكَ أَفْطَرْتُ} (سنن أبي داود)

**ژباړه**: اې الله! یوازې ستا (درضا) لپاره مې روژه نیولې او ستا په (راکړل شوي) رزق روژه ماتوم.

٦- په ښـو او نېکو کارونو بوختېدل، لکه: تلاوت قرآن، ذکر او درود ویل او همدارازپنځه وخته د جَمعې او د تراویح لمنځونو کې شریکېدل.

۷- هغو درسي حلقاتو کې ګډون کول، چې د رمضان میاشت کې جوړیږي؛ تر څو د روژې له احکامو او د نیولو له غوره طریقې څخه یې خبر او پلې یې کړي.

۸- صــبر او زغم، چې د روژې له مهمو اهدافو څخه دي،خپله دنده ګرځول او په هغو خپل اخلاق ښایسته کول.

۹- د یو چا د بدو خبرو ځواب په ښــې خبرېسره ورکول یا د اورته ویل:(ما روژه نیولې ده)

۱۰- ښېګڼه او خیرات ورکول، مسکینانو، مستحقو خپلوانو او ګاونډیانو ته.

۱۱- روژتي ته روژه ماتــي ورکول، دحدیث شریف دی: {چا چــې روژتي ته روژه ماتی ورکړ، د هغه د روژې برابر ثواب یــې کیږي، پرته له دې چې ثواب کې یې کمی راشي}.

۱۲- له هـــر هغه څه ډډه کول، چــې د روژې له اهدافو سره منافي وي، لکه: غیبت، تهمت، بې ځایه خبرې، دروغ، بدې اخستل، سود خوړل ... او داسې نور؛ ځکه دغه کړنې په هر وخت کې حرامې دي، نو له روژتي سره په اولی طریقـې نه ښایي، چې خپله روژه په داسې اعمالوسره نیمګړې یا ثواب یې له مینځه یوسي.

۱۳- د خپل کور په نفقه کې آســانی او زیاتوالی راوســتول، په دې شرط چې د اسراف ښه غوره نه کړي.

۱۴- اعتکاف ترسره کول.

## و- د روژې ځینې مکروهات:

۱- له عذر پرته، د خوړو خوند څکل، د ورځې له مخې.

۲- په لوی لاس (قصدي ډول) وروسته والی په روژه ماتي کې.

۳- ښکر لګول (حجامت)، چې د روژتي د کمزوری سبب کیږي.

۴- د پوزې په وینځلو (استنشاق) او غړغړه کولو (مضمضمه) کې زیاتوالی کول.

۵- په غاښونو کې د خوړو میده برخې پرېښودل .

## ز- د روژې ماتوونکي:

۱- خوراک او څښاک کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- جماع (د نر او ښځې ترمنځ کوروالی).
۳- استمنا (د نطفې ایستل له ځان څخه د لاس او یا د بل شي په وسیله).
۴- د حیض او یا نفاس راتلل.
۵- لېونتوب.
٦- قصدًا په ډکه خوله قی کول.

### ح- هغه شیان چې روژه نه ماتوي:

۱- لمبېدل یا اوبو کې لامبو وهل، په دې شرط چې اوبه یې له طبیعي لارو څخه، خېټې ته ونه رسیږي.
۲- درنجو او یا هغې ته ورته د کوم بل شي کارول په سترګو کې.
۳- په هېره د یو شي خوړل او یا څښل، په دې شرط چې د روژې په یادېدلو سره، سمدلاسه هغه شی له خولې څخه وغورځوي.
۴- په غیر قصدي ډول د قی کېدل.
۵- د مسواک کارول.
٦- د نکریزو ایښودل په لاسونو، پښو او یا نورو ځایونو باندې او همداراز د بدن غوړول.
۷- بې اختیاره د ګرد، دوړې، ماشي یا مچ تیرېدل.
۸- د ورځې پرمهال جنب کېدل او یا د شپې لخوا د جنابت غسل ځنډول تر سپېده چاود پورې، که څه هم غوره له سپېده چاود څخه مخکې یاد غسل کول دي.

### ط- د روژې قضایې، کفاره او فدیه

**قضا**: د روژې قضایې، په لاندې صورتونه کې لازمیږي:
۱- قصدًا په ډکه خوله قی کول.
۲- په لوی لاس حلق ته دود یا ګرد تېرول.
۳- حیض او نفاس راتلل.
۴- حملداره او شیدې ورکونکې ښځه، چې:
• روژه نیول، یوازې دېته زیان رساوه.
• روژه نیول، یوازې بچي ته یې زیان رساوه.
• روژه نیول، دې او بچي دواړو ته یې زیان رساوه.
۵- ناروغه چې د روژې نیولو توان ونه لري.
٦- مسافر چې روژه نیول یې کمزوري کوي که یې د کمزوی لامل نه کېده، نو غوره ورته روژه نیول دي.

**کفاره**: د روژې (د رمضان د میاشتې د روژې) کفاره، له درې شیانو څخه عبارت ده:
۱- د یوه مریي (غلام) آزادول.
۲- د مریي د نشتوالي په صورت کې، دوه میاشتې پرله پسې روژې نیول، چې د عید او تشریق ورځې په کې نه وي.
۳- د روژې نیولو د توان نه لرلو په صورت کې، فدیه (شپېتو مسکینانو ته دوه وخته په مړه خېټه خواړه یا تقریباً دوه کیلو غنم یا د هغو دوه برابره وربښې، خورما او ممیز او یا هم د هغو بیه ورکول).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کوم شیان، قضا او کفاره دواړه لازموي؟

هغه شیان، چې د رمضان میاشتې د روژې قضا او کفاره دواړه لازموي:

۱- په لوی لاس، پرته له شرعي عذر څخه، خوراک او څښاک کول، د ورځې پر مهال.

۲- جماع کول، د ورځې له مخې.

**فدیه**: مسکین ته، د خوړو له ورکولو څخه عبارت ده. د هرې هغې ماته شوې روژې په بدل کې، چې روژتي یې د قضا راوړلو توان نه لري، فدیه لازمیږي.

د روژې د فدیې اندازه: مسکین ته تقریباً دوه کیلو غنم یا د هغو دوه برابره وربښې، خورما او ممیز او یا د هغو بیه ده.

## فدیه، د دوه ډوله خلکو له خوا ورکول کیږي:

۱- هغه چې د روژې نیولو بېخي توان ونه لري، لکه: شیخ فاني.

۲- ناروغه چې د روغېدو هیله یې بېخي شتون ونه لري.

## که د فدیې ورکولو توان ونه لري؟

که څیرې د فدیې ورکولو توان ونه لري، نو په دې صورت کې، یوازې د استغفار ویل (له الله څخه د بښنې غوښتلو) بسنه ورته کوي.

## ی- د روژې اړوند بېلابېلې مسئلې:

(۱) مسئله: چا چې په لوی لاس روژه ماته کړه، پاتې ورځ به څه نه خوري.

(۲) مسئله: که چا یو شی په هېره وخوړ او بیا یې په دې فکر قصدًا خوراک وکړ، چې روژه یې ماته شوې، روژه یې ماته ده او قضایي یې پرې لازمیږي.

(۳) مسئله: که چا په دې فکر پېشلمی یو څه وخنډاوه، چې لا به سپیدې نه وې چاودلې او وروسته څرګنده شوه، چې سپیدې چاودلې وې، هغه به روژه پوره کوي او یوازې قضایي به یې راګرځوي.

(۴) مسئله: که چا په دې فکر روژه ماته کړه، چې ښایي لمر لوېدلای وي او وروسته جوته شوه، چې لمر نه و لوېدلای، روژه یې ماته ده او یوازې قضایي به یې راوړي.

(۵) مسئله: نَس کې د پېچکارۍ په کارولوسره، دوا نېغ په نېغه معدې ته د رسېدلو له کبله روژه ماتیږي.

(۶) مسئله: پېچکارۍ که د غوښې وي یارګ او همداراز سېروم، روژه ورسره نه ماتیږي، خو د امکان تر کچې درګ له والې څخه دې، د روژې پر مهال احتیاطًا ډډه وشي.

(۷) مسئله: له دماغ او خیتې پرته، د انسان د بدن د نورو برخو په عملیات کولو سره، روژه نه ماتیږي. همداراز د بدن د هغو اندامونو په عملیات کولوسره هم روژه نه ماتیږي، چې دماغ یا معدې ته طبیعي سوري (منفذونه) ونه لري.

(۸) مسئله: پوزه کې داسې دوا کارول، چې حلق ته ورسیږي، روژه پرې ماتیږي او که ونه رسیږي، نه ماتیږي.

(۹) مسئله: که په تیروتنې سره په غوږ کې اوبه لاړې شي، روژه نه ماتوي او که دوا یا تېل په غوږ کې وکارول شي، روژه پرې ماتیږي.

(۱۰) مسئله: د ډیرې اړ تیا له کبله، روژه کې غاښ ویستل روا دي او که ډیره اړ تیا نه وي، بیا مکروه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱۱)مسئله: که د غاښ ویستلو پرمهال دوا یا وینه خېټې ته لاړه شي، نو که وینه تر ناړو (لاړو) زیاته یا برابره وه او یا یې خوند ځرګند و، روژه ورسره ماتېږي.
(۱۲)مسئله: د اړ تیا په صورت کې، خپل بدن ته د چا وینه تېرول، روژه نه فاسدوي.
(۱۳)مسئله: د پېچکارۍ له لارې له بدن څخه وینه باسل، روژه نه ماتوي، خو دومره وینه ویستل مکروه دي، چې د روژتې د کمزورۍ لامل ګرځي.
(۱۴)مسئله: که چا ته بې اختیاره په ډکه خوله قې ورغی او د یوه نخود د دانې په اندازه یې بېرته تېر کړ، روژه یې ماته ده.
(۱۵)مسئله: که چا په غاښونو کې، د نخود د دانې په اندازه، د خوړو پاتې برخې تیرې کړې، روژه یې ماتیږي.
(۱۶)مسئله: له خپلې مېرمنې سره لوبې کول، چې ورسره د کوروالي یا انزال وېره شتون ونه لري، جواز لري.
(۱۷)مسئله: که یوه مېرمن د روژې ورځې په اوږدو کې، له حیض څخه پاکه شي، پاتې ورځ به خوراک او څښاک نه کوي او د دې ورځې قضایي به هم راوړي.
(۱۸)مسئله: که یو هلک د ورځې پرمهال بالغ شي، پاتې ورځ به خوراک او څښاک نه کوي او د دې ورځې قضایي پرې نشته.
(۱۹)مسئله: هغه مسافر چې د روژې په ورځ مقیم شي، پاتې ورځ به خوراک او څښاک نه کوي او د دې ورځې قضایي به هم راوړي.
(۲۰)مسئله: که چا ته داسې ناروغي پېښه شي، چې ورسره روژه نیول ورته ډېر ګران وي یا ژوند یې ګواښي او یا د روژې په نیولو سره یې ناروغي زیاتېدله یا رغېدا یې ځنډېدله، روژه دې نه نیسي او قضایي یې پرې لازمه ده.
(۲۱)مسئله: که چا شپه کې د روژې نیت کړی و او بیا د ورځې بې هوښه یا لېونی شي، د دې ورځې روژه یې صحیح ده.

## ک- د فطر صدقه (سرسایه)

د فطر صدقه، د یوې ټاکلې اندازې خوراک، د هغه مستحق ته، له ورکولو څخه عبارت ده. دغه صدقه، د رمضان میاشتې د پای ته د رسېدو، د دې لوی نعمت د پېرزوینې د شکرانې په توګه او له فقیرانو او بې وزلو سره د مرستې او خواخوږۍ په خاطر، روا شوې ده.

- د فطر صدقه، د هجرت په دویم کال واجبه شوې ده.
- د فطر صدقه، عید فطر (کوچني اختر) ته یې نسبت کیږي؛ ځکه هغه د همدغه اختر په ورځ، له سپیده چاودسره سم لازمیږي.
- د فطر صدقه یا سرسایه، سر ته یې نسبت ځکه کیږي، چې هغه د سر صدقه ده.
- د فطر د صدقې د ورکولو ګټه او حکمت،د روژې د نیمګړتیاوو جبیره کول دي، لکه د سهوې سجده چې د لمانځه د ځینو نواقصو جبیره ده.
- د فطر د صدقې اندازه، تقریباً دوه کیلو غنم یا د هغو دوه برابره وربشې، خورما او ممیز او یا هم د هغو بیه ده او پر هغه چا لازمه ده، چې شتمنۍ یې د زکات د نصاب په اندازه، له خپلو اساسي اړ تیاوو زیاته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د فطر د صدقې اړوند بېلابېلې مسئلې:

(۱)مســـــئله: دا چې فطرانه صدقه ده، نو پر هر مســــــلمان (نر او ښځې، بالغ او نابالغه، عاقل او لېوني)، چې د نصـاب خښــتن او مال يې له اساسي اړتياوو زيات وي، لازمه ده.

(۲)مســــئله: د فطر د صدقې د ورکولو وجوب وخت، د کوچني اختر د ورځې د سپېدو له چاودېدوسره دی.

(۳)مســــئله : د فطر د صدقې غوره وخت، د کوچني اختر د لمانځه له اداکولو نه مخکې دی.

(۴)مســئله: څوک چې د کوچني اختر د ورځې له سپېده چاود څخه وروسته مړ شي، د فطر صدقه ور کول يې واجب ده.

(۵)مســئله: کوم ماشوم چې د اختر د ورځې له سپېده چاود څخه مخکې پيدا شي، د فطر صدقه ور کول يې لازم دي.

(٦)مسـئله: د هغه ماشوم د فطر صدقه نشـته، چې د اختر ورځې له سپېده چاود څخه وروسته پيدا شي.

(۷)مسئله: د فطر صدقه، د اختر له ورځې وروسته، ور کول يې جواز لري.

(۸)مســئله: د فطر صدقه، د اختر له ورځې مخکې، د رمضــان مياشتې په اوږدو کې، ور کول يې جواز لري.

(۹)مســــئله: هر شخص مکلف دی، څو د هغه چا د فطر صدقه هم ور کړي، چې شرعاً نفقه يې د ده پر غاړه وي، لکه: اولاد،ماشومان، مرييان او وينځې.

(۱۰)مسئله: د ښځې او غټو اولادونو د فطر صدقه، پر مېړه يا پلار لازمه نه ده، خو د احسان او ښيګڼې له مخې يې ور کولای شي.

(۱۱)مســــــئله: د فطر صدقه، بايد هغو خلکو ته ور کړلای شي، چې د زکات مسـتحقين دي. خو په کار ده څو د اړ تياوو او لومړيتوبونو له مخې، د دوی درجه بندي وشي.

(۱۲)مسئله: د کورنۍ د هر غړي فطرانه دې، د هغه په نوم جلا کړای شي، بيا دې د ټولو فطرانې يوځای کړای او وروسته پر مسکينانو ووېشلای شي.

(۱۳)مسئله: هر هغه څوک چې نيت يې معتبر دی، لکه: عاقل، بالغ او هغه ماشوم چې د تشخيص توان لري، خپله دې د فطرانې
د ورکولو نيت وکړي او هغه چې نيت يې معتبر نه دی، لکه: کوچنی او ليونی، د سرپرست نيت ورته بسنه کوي.

(۱۴)مســــئله: د مســــتحقينو په شتون کې، له يوه ښار نه بل ښار ته، د فطر د صدقې انتقالول مکروه دي .

(۱۵)مسئله: د خوراکي توکو په بدل کې، نقدې پيسـې ور کول د فطرانې په توګه، جائز دي.

(١٦)مســئله: که چيرې يوه موسســه يا د ټولنې ژمن وګړي، د خلکو فطرانه په نغدو او عادلانه توګه راټولې کړي او بيا د اســلامي فقهې له اصــولوسره ســم، خوراکي توکي پرې واخلي او پر اړ منو خلکو يې ووېشيـ، په دې شرط چې د دغو توکو د اخيستلو او وېشلو وکالت ولري، دا کار جائز دی.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**